# کامیاب دی که ریښتینی وي

له طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: د نجد له خلکو څخه یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په داسې حال کې راغی چې سر یې ببر او وېښتان یې ګډوډ وو او موږ د هغه د غږ بونګاری اوریده، خو موږ نه پوهېدو چې څه وايي تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نږدې شو ، نو ګورو چې هغه د اسلام په اړه پوښتنه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: «په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه» نو هغه وویل: آیا نور کارونه هم راباندې شته؟ هغه وفرمایل: «نه، خو که نفلي لمونځونه وکړې، او د رمضان د میاشتې روژه»، هغه وویل چې آیا لدې پرته نور څه راباندې شته؟ هغه وفرمایل: «نه، مګر دا چې نفلي روژې ونیسې» او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د زکات یادونه وکړه، نو هغه وویل: آیا لدې پرته نور څه راباندې شته؟ هغه وفرمایل: «نه، مګر دا چې نفلي خیراتونه ورکړې»، وايي: سړی روان شو او (له ځان سره یې) ویل چې: قسم په الله چې لدې به یې نه زیات کړم او نه به یې کم کړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «کامیاب دی که ریښتینی وي.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

د نجد له خلکو څخه یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، په داسې حال کې چې ویښتان یې ګډوډ وو ، غږ یې لوړ و، په خبرو یې څوک نه پوهېده، تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نږدې شو. نو د اسلام د فرائضو په اړه یې پوښتنه وکړه؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه پیل وکړ او پوه یې کړ چې الله تعالی پرې په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض کړي دي. ویې ویل: آیا له دې پنځو لمونځونو پرته بل کوم لمونځ کول راباندې شته؟ ویې فرمایل: نه، پرته له دې چې د نفل په توګه لمونځ ادا کړې. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او له هغه څه نه چې الله تعالی درباندې فرض کړي دي د رمضان د میاشتې روژه نیول دي. سړي وویل: آیا د رمضان له روژې پرته راباندې بله روژه نیول شته؟ هغه وویل: نه، پرته له دې چې په خپله خوښه روژه ونیسې. بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم د زکات یادونه وکړه. نو سړي وویل: آیا له فرض زکات نه پرته راباندې نورې کومې صدقې شته؟ هغه وفرمایل: نه، مګر دا چې نفلي وکړې. کله چې سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا فرایض واورېدل، روان شو او په الله تعالی یې سوګند وکړ چې پر همدې به پابند پاتې کیږي؛ نه به ترې څه کموي او نه به یې زیاتوي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د دې خبرې پسې وفرمایل: که چېرته دا سړی په خپل سوګند کې ریښتونی و، نو له کامیابانو څخه به وي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee